په تاسو کې هیڅوک مومن کیدلی نه شي؛ تر څو چې د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ کړي چې د ځان لپاره يې خوښوي

د ابو حمزه انس بن مالک رضي الله عنه څخه – چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم خادم و – روايت دی، چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "په تاسو کې هیڅوک مومن کیدلی نه شي؛ تر څو چې د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ کړي چې د ځان لپاره يې خوښوي".

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې هیڅ مسلمان تر هغه پورې د بشپړ ایمان خاوند کېدلی نه شي تر څو چې خپل مسلمان ورور ته هغه څه خوښ کړي چې ځانته يې خوښوي هغه که: طاعتونه او يا هر ډول ديني او دنيوي ښېګڼې وي او دا چې څه د ځان لپاره بد ګڼي د هغه لپاره يې هم بد وګڼي، نو که چېرته يې په خپل ورور کې ديني نېمګړتيا وليده، په اصلاح کې يې زيار باسي او که کومه ښېګڼه يې پکې وليده نو ملاتړ يې کوي او د دين او دنيا په اړه يې ورته نصيحت کوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66520